## د هغو خلکو لپاره معلومات چې په سکاټلینډ کې اوسیږي او په افغانستان کې د بحران په سبب اغیزمن شوي

مونږ د هغو افغانانو لپاره معلومات راټول کړي چې په سکاټلنډ کې اوسیږي او په افغانستان کې د چټکه بدلیدونکې بحران په سبب اغیزمن شوي.

مونږ به دا پاڼه هغه مهال په روان ډول تازه کړو چې تازه معلومات مو ترلاسه کړل. د تازه معلوماتو لپاره پدغه پاڼه کې د رسمي منابعو لینکونه وګورئ.

## تاسو په سکاټلینډ کې اوسیږی او د خپل وضعیت په اړه اندیښمن یاست

که چیرې تاسو په سکاټلنډ کې اوسیدونکی افغان یاست، د افغانستان چټک بدلیدونکی وضعیت به ممکن پدې معنا وي چې ستاسو شخصي حالت بدلون موندلی او/یا نور شواهد رابرسیره شوي. ستاسو حقوقي استازی به تاسو ته ستاسو د موجودو امکاناتو په اړه مشوره درکړي. په لاندې مواردو کې د حقوقي مشورې لټول په پام کې ونیسئ:

- غواړی د پناه غوښتنه وکړی
- تاسو لا د مخه پناه غوښتی او د پریکړې په انتظار یاست
- تاسو د پناه د غوښتنې د مسترد کیدو پر وړاندې استیناف غوښتی
- تاسو د پناه تازه غوښتنه (فریش کلیم) کړی یا په پام کې لری ترڅو دا کار ترسره کړی
- ستاسو د پناه غوښتنه مسترد شوی او خپل د استیناف له حقوقو څخه مو په بشپړ ډول کار اخیستی
- تاسو ته د کورنیو چارو د وزارت (هوم آفیس) لخوا د ویستلو پریکړه رسیدلی
- تاسو موقته ویزه لری لکه د زده کونکي ویزه، او افغانستان ته د ورستنیدو په رابطه د خپل امنیت په اړه اندیښمن یاست

## د کډوالۍ او پناه غوښتنې په اړه له کوم ځای څخه حقوقي مشوره ترلاسه کیدلی شي؟

تاسو کولی شی د سکاټلینډ د حقوقي ټولنې: د وکیل لټون - له لارې یو وکیل پیدا کړی.

تاسو کولی شی د کډوالی د خدماتو د کمیسیون (OISC) لخوا یو منظور شوی مشاور د OISC د مشاور لټونکي له لارې پیدا کړی.

تاسو همداراز دلته په ګلاسګو او ایډینبرو کې د وکیلانو لیست کتلی شی:

په ګلاسګو کې حقوقي استازي/په ایډینبرو کې حقوقي استازي

که تاسو بې وزله یاست، عاید مو لږ دی او/یا د ټولنیز امنیت څخه مالي مرستې ترلاسه کوی، تاسو ممکن په ساکټلینډ کې د حقوقي مشورې د مصارفو د ورکړې په اړه حقوقي مالي مساعدت ترلاسه کړی. حقوقي استازي به وکولی شي پدې اړه او همداراز ستاسو په استازیتوب حقوقي مالي مساعدت ته د غوښتنې په اړه تاسو سره مرسته وکړي.

## تاسو د افغانستان څخه سکاټلینډ ته انتقال شوي یاست او غواړی په بریتانیی کې خپل د حقوقو په اړه پوه شئ

که چیرې د افغانستان څخه انتقال شوي یاست دلته د خپلو حقوقو او د کډوالۍ د لارو چارو لپاره د بریتانیې د حکومت معلومات ولولئ.

که چیرې د افغانستان څخه د خپل له انتقال وروسته په هوټل کې اوسیږی، او د هغو مرستو په اړه پوښتنې لری چې تاسو یې ترلاسه کولی شی، پدې صفحه کې د بریتانیی د حکومت د مرستندویه شمیرو او د هغوی د کاري وختونو په اړه معلومات پیدا کړی.

## **تاسو په سکاټلینډ کې یاست** او په افغانستان کې د خپل کورنۍ یا ملګرو په هکله اندیښمن یاست

که چیرې تاسو په افغانستان کې د خپلو خپلوانو په اړه اندیښمن یاست او غواړی د کورنۍ د غړو او ملګرو سره د مرستې په هکله معلومات ترلاسه کړی نو د هغو لارو چارو لپاره د حقوقي مشوره ترلاسه کړئ چې د هغوی لپاره خلاص دي.

**کورنۍ یا ملګري:**

پدی اړه پلټنه وکړئ که چیرې د افغانانو د هستوګنځای د بدلون او مرستې اوسني پالیسي ته مستحق اوسئ کوم چې یواځې ځایی مامورینو ته او د هغوی لپاره د درخواست ورکولو لارو چارو پورې محدود دی.

**یواځې د کورنۍ د غړو لپاره:**

که چرې تاسو د کډوالۍ حقوقي وضعیت یا د بشري حفاظت وضعیت لرئ نو د خپل وکیل سره د کورنۍ د بیا یوځای کیدو د لارو چارو په اړه مشوره وکړئ. که چیرې په ګلاسګو کې ژوند کوی، تاسو همداراز کولی شی پدی اړه د بریتانیی د سره صلیب د دفتر سره اړیکه ونیسئ که چېرې وکولی شی د کورنۍ د بیا یوځای کیدو په اړه د ویزی د غوښتنې اړوند مرسته ترلاسه کړی. مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې د کورنۍ سره د بیا یوځای کیدلو لپاره ستاسو درخواست به ممکن پدی سبب د پام وړ ځنډ سره مخ شي چې په افغانستان کې کورنۍ د خپل بایومتریک معلوماتو د ورکولو په اړه د ستونزو سره مخامخ دي.

د خپل حقوقي استازي څخه پدی اړه پوښتنه وکړی چې د کورنۍ د غړو د کډوالۍ لپاره به ممکن نورې کومې لارې خلاصې وي.

## **تاسو په سکاټلینډ کې یاست** او په افغانستان کې مو د خپلې کورنۍ سره اړیکه له لاسه ورکړې

د سره صلیب اداره د کورنیو د لټون لپاره خپل د نړیوالو خدماتو له لارې په بهر کې د ورک شوي خپلوانو د موندلو په اړه مرسته کوي. تاسو کولی شئ دلته د هغوی د خدماتو په اړه معلومات ترلاسه کړی.

## **تاسو په افغانستان کې یاست** او تاسو او ستاسو کورنۍ ځان خوندي نه احساسوي

مهرباني وکړئ د موجوده مرستو د ډولونو او د بریتانیایی او غیر بریتانیایی اتباعو لپاره چې اوس هم په افغانستان کې دي د مرستندیوه شمیرو لپاره دلته د بریتانیی د حکومت معلوماتي پاڼو ته مراجعه وکړئ.

دلته د هغو خلکو لپاره د کډوالو د شورا د مرستې او معلوماتو لنډیز وګورئ چې په افغانستان کې د بحران له امله اغیزمن شوي.

دلته په افغانستان کې د سره صلیب د بشردوستانه مرستو په اړه معلوماتي پاڼه ولولئ.

دلته د کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره او همداراز د هغو افغانانو په هکله چې نورو هیوادونو ته تښتي د UNHCR افغانستان معلوماتي پاڼه ولولئ. د UNHCR افغانستان صفحه همداراز په افغانستان کې د مرستو او په بیلابیلو هیوادونو کې د هستوګنځای د بدلون د پروګرامونو په اړه معلومات لري.

## بریتانیی ته د افغانانو د خوندي رسیدو لپاره د هستوګنځای د بدلون او حفاظت اوسني لارې چارې

### په افغانستان کې د ځایی مامورینو لپاره وړیا برنامه

دا وړیا برنامه په ۲۰۱۳ کې پیل شوه ترڅو هغو افغانانو ته روزنه، مالي مرستې (د هیواد دننه) او د هستوګنځای بدلون وړاندې کړي چې په ۱ می ۲۰۰۶ نیټه یا له هغه څخه وروسته یې د بریتانیی د دولت سره دننه ترسره کړې وي او د

برطرفي یا استعفا پرم مهال یې د دولسو میاشتو څخه ډېرکار کړي وي. تاسو کولی شئ دلته د افغانستان د ځایی مامورینو لپاره د وړیا برنامې په اړه د بریتانیې د دولت معلومات مطالعه کړی. که چیرې فکر کوی چې د دی برنامې لاندې د ځای د بدلون مستحق یاست، د بریتانیې حکومت په تینګار سره سپارښتنه کوي ترڅو د افغانانو لپاره د هستوګنځای د بدلون او مرستې د پالیسی (ARAP) لاندې درخواست وکړي.

## د افغانانو لپاره د هستوګنځای د بدلون او مرستې پالیسي (ARAP)

د افغانانو لپاره د هستوګنځای د بدلون او مرستې پالیسي (ARAP) په ۱ اپریل ۲۰۲۱ کې پیل شوه ترڅو ټولو هغو برحاله او پخوانیو ځایی مامورینو ته د هستوګنځای بدلون او نورې مرستې وړاندې کړي چې په افغانستان کې یې ژوند د خطر سره مخ دی، پرته لدې چې د هغوی نقش، دندې، د خدمت موده، یا د دندې د پرېښودو دلیل په پام کې ونیول شي. که چیرې فکر کوی تاسو مستحق یاست، تاسو د افغانستان په ګډون له هر هیواد څخه درخواست ورکولی شئ. تاسو د (ARAP) د برنامې په اړه دلته لوستلی شئ.

## د افغان اتباعو د بیا میشتیدنې برنامه

د بریتانیې حکومت دغه برنامه په ۱۸ آګست ۲۰۲۱ نیټه اعلان کړه. د دی برنامې موخه دا ده ترڅو هغو افغانانو ته د بیا میشتیدنې زمینه برابره کړي چې د ځورونې د خطر سره مخ دي او تحفظ ته اړتیا لري، د هغو وګړو په ګډون چې د بریتانیې د دولت د هڅو سره یې د ډیموکراسي، د بیان د ازادۍ، د میرمنو د حقوقو او د قانون د حاکمیت د ودی په اړه مرسته کړی، لکه قاضیان، خبریالان، سیاسیون او فعالان او هغه خلک چې د خپل جنسی تمایل، جنسیت، قومي او مذهبي هویت له کبله د خطر سره مخ دي. دغه برنامه لا تر اوسه فعاله نده؛ مګر د بریتانیې حکومت اعلان کړی چې یو شمیر هغو خلکو ته به د دی برنامې لاندې د بیا میشتیدنې زمینه برابروي چې انتقال شوي دي. دا ضرور دی چې په یاد ولرئ چې د درخواست کوم بهیر موجود ندی او تاسی نشی کولی دی برنامې ته درخواست ورکړی. تاسو دلته د افغان اتباعو لپاره د بیا میشتیدنې د برنامې په اړه او همدارار د دی برنامې د متقاضیانو د انتخاب د پروسې په اړه مطالعه کولی شی.

## د بریتانیې د پناه غوښتنې نظام

بریتانیې د ژنیو ۱۹۵۱ کنوانسیون لاسلیک کړی او د هغو خلکو لپاره د پناه غوښتنې یو نظام لري چې د ځورونې په سبب تښتیدلي او په برتانیې کې پناه ته اړتیا لري.

که چیرې تاسو په سکاټلینډ کې یاست:

- د کورنیو چارو د وزارت لخوا د پناه غوښتونکو سره د ملاتړ او مرستې په اړه او همداراز د پناه د غوښتنې په اړه د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د مایګرینټ هیلپ مرستندویه شمیرې ته تیلفون وکړئ 0808 8010 503 (د ژباړونکي غوښتنه وکړئ)
- د لومړني مشورې، معلوماتو او وکالت لپاره د سکاټلینډ د ژنیو د شورا د مرستندویه شمیرې ته تیلفون وکړئ وکړئ 0808 196 7274 (د ژباړونکي غوښتنه وکړئ).
- د یو منظور شوي حقوقي استازي څخه حقوقي مشوره ترلاسه کړئ.

## **تاسو په سکاټلینډ کې یاست** او مرسته غواړئ

په ورستیو اونیو کې مونږ د ټول سکاټلینډ څخه د ډلو او اشخاصو لخوا د عملي مرستو غوره وړاندیزونه ترلاسه کړي. ستاسو د مرستو د سخاوتمندانه وړاندیزونو د همغږۍ لپاره، مونږ د افغان ملاتړ شبکه پیل کړی. تاسو کولی شئ خپل د مرستې وړاندیز پدی انلاین فورمه کې راجستر کړئ. مونږ به بیا هڅه وکړو ترڅو دغه وړاندیزونه د هغو افغانانو د اړتیاوو سره پرتله کړو چې په راتلونکي میاشتو او اونیو کې سکاټلینډ ته راځي او ځایی مقامات یې هرکلی کوي.